مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۵/۰۹/۲۷

# قصه په سلو ټکو کي

بایللي ښکلا،

شپه وه، پس له عمرونو مي آسمان ته سترګي واړولي. ستوري کرار او په لړزه د تورو وریځو شا ته پټ ول. سر مي پسي وګرځاوه، ښایي آخري دیدن ئي وکړم. خو باران سو.

اولي څاڅکي نرمي وې، سپکي وې خوږې وې بیا درني سوې د آسمان پردې سوې. پوه سوم چي نور نو ناوخته دئ، وخت تېر دئ. ناوخته پر ستورو نه، هغوی خو تل وي. وخت تېر وو له ما نه له دې شېبې نه او زموږ له خاموش ارمان نه! نور نو باران هر څه یووړل.

پوه سوم ، ځیني ښکلاوي بس د بایللو لپاره پیدا سوي وي.

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ